یاده علمي مقاله د ننګرهار پوهنتون د پوهې مجلې د ۱۳۹۹ ل کال دریمه او څلورمه ګڼه، تله–کب پرلپسې ۷۴ او ۷۵ مه ګڼه کې د ۵۰ څخه تر ۵۸ مخونو کې خپره شوې

د ښوونې او روزنې پوهنځی
جغـرافیې څانـــــــــــګه
پوهنیار فیاض ګل مظلوم یار

# د هلمند د سیند پر سر د افغانستان او ایران هایدروپولیتیکي اړیکې

لنډیز

یو هېواد چې د سیند ټولې اوبه تر پایه په خپل واک کې ونلري، نو ددې اوبو څخه ګټه اخسته د ستونزو سره مل وي. ددې سیندونو له جملې څخه یو هم د افغانستان د هلمند سیند دی. د هلمند سیند د افغانستان له غرونو څخه سرچینه اخلي چې په ایران کې د سیستان دخلکو ژوند په دې سیند پورې تړلی دی. د هلمند سیند د اوبو د مسیر کوږوالی وخت ناوخت د ایران پر لور ددې اوبو کمېدل د تېرو سلو کلونو په اوږدو کې د افغانستان او ایران ترمنځ په محلي او ملي کچه ستونزې راولاړې کړي دي. په دغه علمي مقاله کې د هلمند د سیند تاریخي مخینه، د هلمنددسیند پر سر د دواړو هېوادونو خپلمنځي تړون او همداشان د افغانستان او ایران په اړیکو د هلمند سیند له اغیز څخه یادونه شوې. یاده علمي مقاله کتابتوني بڼه لري. د مقالې دلیکنې اصلي موخه د هلمند د سیند پر سر د افغانستان او ایران ترمنځ اړیکو څېړل دي. دڅېړنې پوښتنه داده چې د هلمند سیند د دواړو هېوادونو په اړیکو څه اغیز لري. ددې څېړنې څخه به دې پایلې ته ورسېږو چې هلمند سیند د ایران لپاره حیاتي ارزښت لري، د ایران د څو ولایتونو د وګړو ژوند په مستقیم او غیر مستقیم ډول د یاد سیند په اوبو پورې تړلی دی. کله چې د افغانستان دولت د هلمند سیند اوبه مهار کړي، ایران یې په وړاندې دغبرګون ترڅنګ د افغانستان دننه او په ایران کې پر افغان مهاجرینو فشار وارد کړی دی.

**کلیدي کلیمې: د هلمندسیند، هایدروپولیتیک، سیستان حوزه، اړیکې، د اوبو بندونه**

## سریزه

افغانستان د نړۍ هغه هېواد دی چې ټول سیندونه یې له خپلې خاورې سرچینه اخلي، خو اوبه یې تر ډېره بریده نورو هیوادونو ته ځي. لکه څنګه چې کشمیر د خپلو اوبو د سرچینو په موخه د جګړې او کشمکش میدان دی، همداسې د افغانستان د څو لسیزو کشمکشونو یو لامل همدا اوبه دي. څېړنې ښیئ چې په افغانستان کې نظر د اوبو نورو سرچینو ته، له سیندونو او کانالونو ډېره ګټه پورته کیږي. په ټول هېواد کې ۱۳۰ لوی او واړه سیندونه شتون لري چې له دې جملې ۴۳ یې لوی دي. د افغانستان ټول سیندونه په پینځو برخو ویشل شوي دي. د شمېرو له مخې داوبو لګولو سیستم ۸۴ سلنه سیندونو او کانالونه، [illegible] سلنه چینې ۷ سلنه کاریزونو او ۱ سلنه څاګانې جوړوي (یوناما،۲۰۱۶).

د هلمند د اوبو حوزه چې د افغانستان په سویل لویدیز کې بهیږي، د ۱۴۰۰ کیلومتره اوږدوالي په درلودلو سره، د افغانستان تر ټولو لویه اوبیزه حوزه ده. ددې حوزې ٪۸۱،۴ سلنه اوبه د افغانستان دننه او پاتې برخه یې په ایران کې ده. د هلمند سیند د افغانستان د خاورې ٪۶۲،۴۰ چې ۲۸۷،۹۸۶ کیلومتره مربع کیږي، نیولې ده. په ایران کې یې بیا ۸۴۴،۵۴ کیلومتره مربع خاوره نیولې ده(احمدي او ملګری :۱۳۹۳). د دې حوزې اوبه په بشپړه توګه د افغانستان له غرونوڅخه سرچینه اخلي. ایران یادې حوزې ته هیڅ اوبه نه ورکوي، خو په ایران کې د سیستان د دلتا ته ٪۹۶ سلنه اوبه له افغانستان څخه ورځي. د هلمند سیند د حوزې د اوبو ظرفیت په کال کې له ۹۳۰۰ څخه تر ۹۵۵۲ میلیارد مترمکعب پورې اټکل شوی دی. د هلمند سیند، ددې حوزې ٪۶۰ سلنه اوبه برابروي(اطاعت او ملګري،۱۳۹۱). د اوبو د نړیوالې حوزې په توګه د هلمند سیند د افغانستان او ایران تر منځ د اوږد کړکېچ یو لامل دی. ددې کړکېچ د له منځه وړلو لپاره دواړو هېوادونو سل کلنې هڅې کړې دي. ددې هڅو تاریخي شالېد او د حل لارې اوسنی وضعیت په دې علمي مقاله کې څېړل شوی دی.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د څېړنې موخې

1. د هلمند سیند اقتصادي او سیاسي ارزښت روښانه کول.
2. د هلمند سیند پر سر د ترون تاریخي مخینه او د داوړو هېوادونو په اړیکو یې د اغیزو پېژندل.

### د څېړنې پوښتنې

1. د هلمند سیند د افغانستان او ایران لپاره څه ارزښت لري؟
2. د هلمند سیند د ایران اوافغانستان په اړیکو څه اغېز لري؟

د څېړنې ارزښت: ددې څېړنې ارزښت په دې کې دی ترڅو د هلمند دسیند په اقتصادي، سیاسي، ټولنیز او هایدروپولیتکي ارزښت باندې پوه شو. همدارنګه ددې څېړنې ارزښت په دې کې هم دی چې که چېرته افغانستان دهلمند سیند اوبه په سم ډول مدیریت کړي، نو وبه کولی شي چې د ترون څخه زیاتې اوبه په ایران وپلوري، ددې لارې به افغانستان څه ناڅه پرڅان تکیه او بسا شي.

د څېړنې ستونزې: د هلمند سیند د افغانستان مهم سیند دی، په افغانستان کې د تویدو وروسته د یاد سیند اوبه ایران ته ځي. هلمند سیند اوبه د ایران لپاره تر وروستي حده د ارزښت وړ دي. په اوس وخت کې ایران د هلمند سیند څخه د ترون خلاف زیاتې اوبه تر لاسه کوي. کله چې افغانستان دولت د یاد سیند اوبه مهار کړي نو ایران یې په وړاندې غبرګون ښکاره کړی. ډېری ایران پلوه افغانان د هلمند سیند اوبه د ایران حق ګڼي. یادې ستونزو ته ترڅو د هلمند سیند تاریخي بهیر، د ترون حقایق او د افغانستان لپاره د هلمند سیند د اوبو مهارولو ګټو ته په کتو یاده علمي څېړنه تر سره کیږي. چې لوستونکي د هلمند سیند په اړه هر اړخیزه ریښتني معلومات تر لاسه کړي.

د څېړنې کړنلاره: په دغه څېړنه کې له تحلیلي روش څخه کار اخستل شوی دی. د موضوع د څرنګوالي په نظر کې نیولو سره د څېړنې کړنلاره کتابتوني بڼه لري چې د بېلابېلو کتابونو، مقالو او دانټرنیټ له سایټونو څخه په کې ګټه اخستل شوې ده. په یاده څېړنه کې تر ډېره دهلمند سیند د افغانستان او ایران اړیکو ته پاملرنه شوې. د څېړنې لاسته راوړنې په توصیفي او تحلیلي بڼه بیان شوي دي.

## د څېړنې موندنې

### دهلمند سیند اوبیزه حوزه

د هلمند سیند د هېواد تر ټولو لویه اوبیزه حوزه ده، چې د افغانستان په سویل لویدیز کې موقعیت لري. یاده اوبیزه حوزه د افغانستان ۴۱ سلنه اوبه تشکیلوي. ۳۱ سلنه کرنیزه ځمکه او ۲۸ سلنه وګړي تر پوښښ لاندې راولي. کلنی جریان یې ۹، ۳۰ میلیارد مترمکعب اټکل شوی دی (اریوبي، ۱۳۹۶). په ټوله کې افغانستان ۷۵ میلیارده متره مکعب اوبه لري( توتاخیل،۲۰۱۹). د هلمند سیند د بابا له غره څخه چې ۳۸۰۰ متره لوړوالی لري، سرچینه اخلي (ارشاد،۱۳۸۴). د هلمند سیند په بېلا بېلو نومونو لکه: هېرمند، هلمند، هلموند او د هلمند سیند په نومونو یادشوی دی. ددغه سیند اوږدوالی د ۱۱۵۰ څخه تر ۱۴۵۰ کیلومتره، پراخوالی یې له ۲۰۰ څخه تر ۶۰۰ مترو او ژوروالی یې له ۲ څخه تر ۵ مترو دی (اطاعت و ورزش، ۱۳۹۱). د هلمند د اوبو په اړه د ایران او افغانستان تر منځ دولتي ترون شته، خو په تېرو څلورو لسیزو کې جنګي شرایطو افغانستان دې ته پرې نه ښود چې خپله د اوبو برخه په مکمل ډول وکاروي، نو عملاً ایران له خپل حق زیاتې اوبه تر لاسه کوي. اوس ایران هڅه کوي چې دا بالفعل وضعیت په خپله ګټه په یو ډول نه یو ډول د تل لپاره پاتې کړي او حقوقي بڼه ورکړي. افغانستان ته په کار دي چې په حقوقي برخه کې د مذاکراتومسلکي ټیمونه ولري او د ځمکې پر مخ د تاسیساتو د خوندیتوب له پاره امنیتي تدابیر ولري (منلی، ۲۰۱۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د هلمند د سیند پر سر د ایران او افغانستان ترمنځ د اختلاف تاریخچه

د اوبو د سرچینو تخصیص د ۲۰ مې پیړۍ راهیسې د افغانانو د ناخوښۍ سبب شوی او پردې باور دي، چې د ایران سیاستونو او اقداماتو د افغانستان ګټې په نامناسبه توګه تر اغېزې لاندې راوستي دي. له دې سره سره په رسمي ډول د افغان حکومت له لورې دې موضوع ته چندان پام نه دی شوی، په داسې حال کې چې بې ثباتي د مسلکي ظرفیتونو نه شتون او پراخ فساد د لازمو سیاسي غوښتنو پرمخ پراته خنډونه دي (اریوبي، ۱۳۹٦). د افغانستان او ایران تر منځ د اوبو د ویش په سر اختلاف له هغه وخته چې د دواړو هېوادونو تر منځ سرحدي پوله د انګریزي هیئت له لورې په ۱۹ پیړۍ کې ( هغه وخت چې د افغانستان بیروني سیاست د انګریزانو په لاس کې و ) وټاکل شو، شتون درلود. په ۱۹۵۰زیږدیز کال کې د دواړو هېوادونو تر منځ د هلمند دسیند د اوبو د اندازې او د هغې د ویش دپاره یو ګډ کمیسیون جوړ شو. ددې کمیسیون کار د نظر د یووالي د نه شتون له کبله ډېر په سستي سره پر مخ روان و، خو بیا هم د ډېرو څېړنو او مطالعاتو وروسته، دواړه هېوادونه په دې و توانیدل چې د یوه داسې تړون په نهایي کیدلو بری و مومي چې دواړو خواو ته د منلو وړ وي (کلیوال، ۲۰۱۷).

د سیستان اوبیزه حوزه کې، د هلمند پر سر په لومړي ځل په ۱۸۷۱ زیږدیز کې شخړه رامنځته شوه، کله چې ګولدسمیت د افغانستان او ایران سرحد ټاکه، د اوبو ویش په اړه یې هیڅ ترتیبات ونه نیول. د ګولدسمیت په پریکړه کې دهر راز اختلافاتو حل لپاره یوائې یو پراګراف (( د سرحد په دواړو غاړو ته د کرنیزو ځمکو په اوبو کې لاسوهنه او تصرف وکړي)) شتون درلود. د هلمند سیند دکالونو تېریدو وروسته خپل لوری بدل کړ او د ۱۹۰۰ زیږدیز کال په لومړیو کې برتانیې یوځل بیا مداخله وکړه. په ۱۹۰۵ زیږدیز کال کې انګلیسي استازي مکماهن کابو هماغه ډول ویش وکړ، چې ګولدسمیت کړی وو. یوائې د اوبو په اړه ویش یې اضافي کار وو. هغه دوه پر درې برخه اوبه افغانستان او یو پر درې برخه یې ایران ته ورکړې (اریوبي، ۱۳۹٦). دغې هوکړې تر ۱۹۳۰ زیږدیز کال پورې دوام وکړ. له دې کال وروسته د وچکالۍ او اوبو ته د دواړو لورو د تقاضا په ډېریدو یوځل بیا دغه مسئله په جدي اندېښنه بدله شوه. دواړو هېوادونو په ۱۹۳۵زیږدیز کال کې دیپلوماتیکي اړیکې جوړې کړې او په ۱۹۳۵ زیږدیز کال کې د ایران او افغانستان ترمنځ په کابل کې ځینې هوکړې وشوې، چې د هغې پر اساس دواړه خواوې د هلمند له اوبو مساویانه ګټه وکړي (اریوبي، ۱۳۹٦). اما د ښه نیت او اعتماد نه شتون له امله دا هوکړه هم د ستونزو سره مخ شوه او هرې خوا بل لوری ملامت کاوه، چې ګواکې د کانال او نورو تاسیساتو د جوړولو په لټه کې دي او د هوکړې د تطبیق سره په ټکر کې دي (اریوبي، ۱۳۹٦). تر ۱۹۷۰ زیږدیز کال پورې دې مسئلې د دواړه هېوادونو د اړیکو پر څرنګوالي ژور اغېز درلود. بالاخره دا تړون په ۱۹۷۳ زیږدیز کال د دواړو هېوادونو ترمنځ لاسلیک شو. د ایران دولت د هلمند د سیند څخه په هره ثانیه کې د ۲٦ متره مکعب اوبو د ترلاسه کولو حق ورکړل شو (کلیوال، ۲۰۱۷). د هلمند لوظنامه چې د افغانستان د پخواني پاچا محمدظاهر شاه په وخت کې لاسلیک شوه، اسناد یې د جمهور رئیس محمد داود خان له خوا منل شوي او تبادله شول. محمد داود خان په یوه وینا کې دې موضوع ته داسې اشاره وکړه:(( د افغانستان جمهوریت اړیکې د ګاونډي هېواد ایران سره په دیني او د وروروله پر علایقو ولاړې دي. یوازینی اختلاف د هلمند د دلتا وو چې څو کاله یې ددواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د سوړوالي سبب ګرځیدلی و، خو تر هغه قرارداد وروسته چې د حکومت وړاندیز، پارلمان په تائید او دهغه وخت د پاچا له خوا توشیح شو او وروسته اسناد تبادله شول، اوس کوم دلیل نه لیدل کیږي چې د اړیکو د پراختیا مخه ونیسي)) (ارغنداوی، ۱۹۹۷).

ټولې هغه اوبه چې دهلمند سیندڅخه ایران ته ورکول کیږي، په نورمال یا غیر نورمال توګه د کال په اوږدوکې په منځني ډول په یوه ثانیه کې ۲۲متره مکعبه دي، خو افغانستان د ښه ګاونډیتوب له کبله څلور متره مکعبه اضافه اوبه ورکوي چې ټولې ۲٦ متره مکعبه کیږي (نیازی، ۱۳۹۷). له دې سره سره اختلافات پرځای وو. ایران په افغانستان کې د اوبو بندونه جوړول د خپل ځان په زیان او دخپلې اقتصادي پراختیا په لار کې خنډ ګڼي، په داسې حال کې چې افغانستان بیا دایران لخوا د اوبو کیندنې او ذخېرې جوړل د نړیوالو اصولو خلاف ګڼي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعوه لري چې ایران له خپله سهمه ډېرې اوبه تر لاسه کوي. د دواړو لورو دغه تورونه او انتقادونه دوام لري او افغان مقامات په ځانګړې ډول نغوته کوي چې ایران په افغانستان کې د بندونو د جوړولو پروسه سبوتاژ کړې (اریوبي، ۱۳۹۶).

د هلمند اوبو څخه ګټه اخیستنه د ایران او افغانستان ترمنځ په اړیکو کې یوه جنجالي موضوع پاتې شوې ده او شاوخوا ۱۰۰ کاله یې د دواړو خواوو پر اړیکو اغېز ښندلې. ترهغه چې د ۱۳۲۶ لمریز کال وچکالی د دواړو خواوو ترمنځ د بې باوری زمینه برابره کړه. دواړو خواوو ترمنځ شدید اختلافات ددې سبب شول چې امریکا ته د منځګړیتوب وړاندیز وکړي. په ۱۳۲۷ لمریز کال کې د دواړو خواوو متخصصینو چې د امریکا له لورې ځانګړي شوي وو، په کار پیل وکړ (اریوبي، ۱۳۹۶). په لومړي ځل ۱۸۶۶ زیږدیز کال کې د افغانستان او ایران ترمنځ د سیستان پر سر سیاسي کړکېچ رامنځ ته شو. دواړو هېوادونو د انګلستان حکومت ته مراجعه وکړه او انګلستان په ۱۸۷۲ زیږدیز کې د ګولډسمیت او پالک په نوم دوه نماینده ګان وټاکل، ګولډ سمیت په ۱۹ اګسټ ۱۸۷۲ زیږدیز کې خپله پرېکړه اعلان کړه. په دې پرېکړه کې سیستان د افغانستان د دولت خاوره وبلل شوه، خو سره له دې یې سیستان دوه برخې کړ او پر دواړه هېوادونو یې وویشه.[https://www. eslahonline. net/2017/](https://www.eslahonline.net/2017/)د سیستان جهیل یې ایران ته ورکړو خو نهر جوړول یې منع کړی و. دوهم ځل ۱۹۰۵ زیږدیز کال کې بیا د مکمهن په نوم بل جنرال ددې ستونزې د حل لپاره لاړو او داسې پریکړه یې وکړه چې یوازې هغه اوبه چې سیستان سیمې ته ځي، د هغه سیمې د لګښت لپاره دي[https://www. taand. com/archives/112685](https://www.taand.com/archives/112685).د افغانستان دولت د بېلابېلو ناستو په ترڅ کې د ناپیلي کمیسون راپور وارزوه او بالاخره په ۱۳۳۱ لمریز کال د سنبلې په ۲۹ مه یې پریکړه وکړه، چې ددغه راپور موندنې مني او له ایران سر به په دې اړه هوکړې ته رسیږي (اریوبي، ۱۳۹۶).

د لومړنیو مخالفتونو سره سره د افغانستان ملي شورا په ۱۳۵۲ لمریز کال د جوزا په ۹ مه یاد تړون تصویب او ضمایم یې تصدیق کړل. څلور ورځې وروسته د افغانستان د شاه له خوا توشیح شو (اریوبي، ۱۳۹۶). دایران لخوا دا تړون په ۱۳۵۲ لمریز کال د ایران اسلامي شورا مجلس لخوا د ډېرو اوږدو مخالفتونو وروسته تصویب شو. د څو کلن ځنډ وروسته د ۱۳۵۶ کال د جوزا په ۱۵ مه د تړون اسناد د سردار محمد داود خان د صدارت په وخت کې تبادله شول (اریوبي، ۱۳۹۶).

## د ایران او افغانستان ترمنځ د هلمند د سیند د ستونزې په موخه د انګریزانو منځګړیتوب

لومړی ځل ګولډسیمټ په نامه انګریز افسر چې سیستان یې د افغانستان او فارس ترمنځ وویشه، دسیستان جهیل یې فارس ته ورکړ، خو نهر جوړول یې منع کړل (نیازی، ۱۳۹۷).د سیستان مساله چې د ګولډ سمت لخوا په غیر عادلانه پریکړه د افغانستان خواشینی باعث شوی وو، هماغسې لا پخپله راتلونکې ته پاتې شوه( عطایي،۱۳۸۰).د ګولډسمیټ په پریکړه کې د هر راز اختلافاتو حل لپاره یواځې یو پراګراف شتون درلود چې په دې ډول دی ( ( د سرحد په دواړو خواوو کې باید هیڅ څوک دا صلاحیت ونه لري چې د هلمند سیند دواړو غاړو ته د کرنیزو ځمکو په اوبو کې لاسوهنه او تصرف وکړي)). د هلمند سیند د کلونو په تېریدو خپل لوری بدل کړ او د ۱۹۰۰ زیږدیز کالونو په لومړیو کې برتانیې یوځل بیا مداخله وکړه (نیازی، ۱۳۹۷). دویم ځل په ۱۹۰۵ م کال بیا د مکماهن په نوم بل انګریز جنرال د لانجې د حل لپاره ولاړ، نوموړي داسې پرېکړه وکړه چې یواځې هغه اوبه چې سیستان سیمې ته ځي د سیمې دلګښت لپاره دي، دا لانجه بیا د محمد ظاهر شاه پروخت کې راپورته شوه، ځکه مخکنۍ پرېکړې استعمار یا پردیو کړې وې، خو داځل په قانوني او رسمي ډول په ۱۹۷۳ زیږدیزکال د مارچ په میاشت کې د افغان استازي لومړي وزیر محمد موسی شفیق او دایران استازي لومړي وزیر امیر عباس هویدا ترمنځ د اوبو د نړیوالو اصولو پر بنسټ یو تړون لاسلیک شو (نیازی، ۱۳۹۷). دا تړون چې په ۱۹۷۳ زیږدیزکال کې د دواړو هېوادونو تر منځ لاسلیک شو، تولې هغه اوبه چې د هلمند سیند څخه ایران ته ورکول کیږي په نورمال یا غیرې نورمال ډول په یوه ثانیه کې ۲۲ متره مکعب دي خو افغانستان د ښه ګاونډیتوب له مخې څلور متر مکعب اضافه اوبه ورکوي چې ټولې اوبه په یوه ثانیه کې ۲۶ متره معکب کیږي [https://www. taand. com/archives/112685](https://www.taand.com/archives/112685).په دی مقدار کې هغه څلور متر مکعب اوبه چې د ملګرتیا، ښه ګاونډیتوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نیک نیتی په نوم د افغانستان پاچا محمد ظاهر شاه له لورې د ایران شاهنشاه رضا شاه ته په فوق العاده توګه منلې وې، هم شاملی دي. چې د محاسبې له مخې ایران په یو کال کې نژدی د (۸۸۰) میلیونه متر مکعب اوبو مستحق ګڼل کیږي (کلیوال، ۲۰۱۷).

**مناقشه**

د اوبو کمبود په ځانګړي ډول په وچو او نیمه وچو سیمو کې د نړۍ دبنسټیزو ستونزو له جملې څخه شمېرل کیږي. د یوې وړاندوینې په اساس تر ۲۰۳۰ کال پورې په ټولیز ډول د نړۍ ۴۷ سلنه وګړي به د اوبو له کمښت سره مخ شي. د جیوپولیټسینونو یوې ډلې دغه پیړۍ د هایدروپولیتیک د پیړۍ په نوم نومولې ده. هایدروپولیتیک د دولتونو ترمنځ داوبو له سیاسي اړیکو څخه بحث کوي. په دې اساس دافغانستان ځینې سیندونه لکه: هلمند، امو او کابل سیندونه نړیوال سیندونه دي چې د ګاونډیو هېوادونوسره د افغانستان ګډې طبیعي زېرمې برابروي. دګاونډیو هېوادونو لپاره دافغانستان اوبه د ژوند حیثیت لري. د افغانستان اوبه د هېواد د اقتصادي، صنعتي او ټولنیز پرمختګ یو بنسټیز عنصر دی، خو د سیندیزو حوزو د څرنګوالي په نظر کې نیولو له ګاونډیو هېوادونو سره همغږي د اوبو د زېرمو د پراختیا لپاره یو اړین ګام بلل کېږي(نیازی،۱۳۹۷). د هلمند سیند د اوبو پر سر افغاني او ایراني چارواکي بېلا بېل نظرونه لري، که څه هم هلمند سیند د افغانستان د خاورې سرچینه اخلي اما د نړیوالو قوانینو له مخې افغانستان باید د ایران دولت ته د شوي تړون له مخې اوبه ورکړي. افغان دولت ادعا کوي چې ایران د شوي تړون څخه سرغړونه کوي او د خپل حق څخه زیاتې اوبه تر لاسه کوي، همداشان د ایران دولت وخت ناوخت د یاد سیند په اوږدو کې بندونه جوړوي چې یاده موضوع په افغانستان کې د امنیتي ستونزو، داخلي کشمکشونو، بیروني مداخلې، پر ځان نه تکیه، د سیاسي مخالفینو سره شخړې هغه څه دي چې تل د افغانستان په زیان تمامې شوې(اریوبي،۱۳۹۶).

د هلمند د سیند اوبه د افغانستان لپاره غوره جغرافیایي منبع ده، مګر کله چې افغانستان د هلمند اوبو دمهارکولو لپاره لاس په کارشوی، ایران پر افغان مهاجرینوفشار زیات کړی یا یې په افغانستان کې داخلي ستونزې پیداکړي. افغانستان دولت ته په کاردي چې په داسې ترینګلي شرایطو کې د ګاونډیو سره د داسې اړیکو غوښتونکی شي چې له امله یې داوبو په مقابل کې ځینې لاسته راوړنې او ترڅنګ یې د هېوادپه داخلي چارو کې د ګاونډیو د لاس وهنو مخنیوی کړی وي. د هلمند دسیند پر سر د ایران او افغانستان ترمنځ د هوکړې پر اساس ایران کولی شي ټاکل شوې اندازه اوبه تر لاسه کړي، مګر ایران د افغانستان د بې ثباتی، داخلي جنګونو، بیرونی مداخلې او نور ډول ډول ستونزو څخه په ګټې اخستنې تل د هلمند سیند د ځان په ګټه او د افغانستان په ضرر تمام کړی(لیکوال).

د ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو پر سر سیاسي شخړې، د اوبو مدیریت برخه کې مسلکي بشري ځواک نشتوالی، پر اوبو د بندونو جوړولو ظرفیت او مالي امکاناتو نشتوالی هغه ستونزې دي، چې افغانستان حکومت د خپلو اوبو مدیریت کې پاتې راغلی دی. له بده مرغه افغانستان تراوسه له خپلو اوبو سرچینو څخه ډېره لږه ګټه اخستې. که افغانستان د اوبو او بریښنا بندونو ته پاملرنه کړی وای نن به پاکستان له افغانستان څخه بریښنا پیرله. کاسا به له افغانستانه سرچینه اخیستله، ټوټاپ په نامه به سوداګري نه کیدله، په همدې ډول د سویلي اسیا د انرژي د کمښت تشه به افغانانو پوره کوله. افغانستان به په میلیونونو ډالر ترلاسه کول. د سیمې هېوادونه به د افغانستان تر اقتصادي اغیز لاندې ول، بې وزلي او بیکاري به نه وه. د خلکو ژوندبه په لوړه کچه و، صنعت او کرنې به پرمختګ کړی وی(لیکوال).

افغان حکومت ته پکار ده چې له ګاونډیو هیوادونو سره د اوبو د ویش تړونونه وکړي. هغه ګاونډیان چې د ویش څخه ډېرو اوبو ته اړتیا لري، باید پیسې ترې واخستل شي. د اوبو د بندونو د جوړونې لپاره لاس په کار شي. هرکال افغانستان د بریښنا په مقابل کې ګاونډیو هېوادونو ته د ۲۰۰ میلیونو ډالر ورکوي، دا راوګرځوي. هیڅ چاته په وړیا توګه اوبه ورنکړي ځکه د اوبو ارزښت ورځ تر بلې ډېرېږي. هېواد باید د اوبو پر سرچینو اباد شي او په راتلونکي کې د نړۍ په کچه د انرژۍ صادرونکی هېواد شي(لیکوال).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پایله اخیسته

د هلمند سیند د افغانستان او ایران ترمنځ د تاریخ په اوږدو کې د ستونزې لامل ګرځېدلی. دغې ستونزې تر ډېر وخت دوام وکړ چې وخت ناوخت یې د دواړو هېوادونو په سیاسي اړیکو اغېز شیندلې. یادې ستونزې څو ځله د افغانستان او ایران ترمنځ مطرح شوي چې کله ناکله د سیمې اخوا قوتونو هم د منځګړیتوب پر اساس مداخله کړې ده، د لومړي ځل لپاره ۱۸۷۱ زیږدیز کال کې یو انګریز افسر چې ګولډ سمیت نومیده، د سیستان اوبه د افغانستان او ایران ترمنځ وویشلې. د سیستان جهیل یې ایران ته ورکړ خو نهر جوړول یې منع کړی و. دوهم ځل ۱۹۰۵ کال کې بیا د انګریز بل جنرال د مکمهن په نوم ددې ستونزې د حل لپاره لاړو او داسې پریکړه یې وکړه چې یوازې هغه اوبه چې سیستان سیمې ته ځي، د هغه سیمې د لګښت لپاره دي. بالاخره په ۱۹۷۲ زیږدیز کال د افغانستان د لومړي وزیر محمد موسی شفیق او د ایران لومړي وزیر امیر عباس هویدا ترمنځ د ستونزې د حل په موخه هوکړه وشوه. د لومړنیو مخالفتونو سره سره د افغانستان ملي شورا په ۱۳۵۲ لمریز کال د جوزا په ۹ مه یاد تړون تصویب او ضمایم یې تصدیق کړل. څلور ورځې وروسته د افغانستان د شاه له خوا توشیح شو. دایران لخوا دا تړون په ۱۳۵۲ لمریز کال د ایران اسلامي شورا مجلس لخوا د ډېرو اوږدو مخالفتونو وروسته تصویب شو. د څو کلن ځنډ وروسته د ۱۳۵۶ کال د جوزا په ۱۵ مه د تړون اسناد د سردار محمد داود خان د صدارت په وخت کې تبادله شول .

که څه هم د هلمند سیند د افغانستان څخه سرچینه اخلي او تقریبا ۹۵ سلنه د افغانستان په خاورې پورې تړلی، مګر ایران ته د تړون پر اساس د ورکړل شوو اوبو ( په یوه ثانیه کې ۲۶ متره مکعب ) څخه د زیاتو اوبو غوښتنه کوي. دا ځکه د هلمند سیند د ایران لپاره حیاتي ارزښت لري، د پام وړ ټکی دادی چې کله افغان دولت د یاد سیند په اوږدو کې د برق دستګاه یا د اوبو بندونه جوړوي، دایران هېواد دغه کړنه د ځان پر ضرر ګڼي، په مقابل کې وخت ناوخت په سیده یا ناسیده توګه په افغان مهاجرینو فشار زیاتوي.

## وړاندیزونه

د افغانستان او ایران لپاره د هلمند سیند اقتصادي او حیاتي ارزښت او ددې سیند د نوسان (کوږوالي) اغېزې د طرفینو پر سیاسي اړیکو، د دواړو خواوو سیاستونو پورې تړلي دي. ددې لارې کیدی شي د طرفینو اړیکې ښې او یا برعکس خرابې شي، ددې څېړنې په پایله کې په دې برخه کې لاندې وړاندیزونه لازم بولم.

1. د هلمند د اوبو د ویش مسئله یوه سرحدي موضوع ده، هیڅکله باید سیاسي نه شي، ځکه ددې موضوع سیاسي کول د دواړو خواوو په ضرر تماميږي.
2. دهلمند سیند د سرچینو مدیریت په اړه د دواړو هېوادونو ګډه پانګونه حیاتي رول لوبولی شي او په دې برخه کې باید هڅه وشي چې د خړوبولو نوی سیستم ته پراختیا، د وچکالی لپاره داوبو ذخیره کول او سیلابونو کنټرول تر سره شي.
3. په سوداګریز، اقتصادي، ارتباطي او فرهنګي برخو کې همکاري ددې باعث کیږي چې دواړه لوري په دې مسئله کې هم ګډ لیدلوري ته ورسیږي.
4. د طرفینو ترمنځ د موجودې هوکړې تطبیق کیدل.
5. که چېرته ایران د شوي تړون څخه زیاتې اوبه غواړې افغانستان باید د نړیوال نورم په اساس في متر مکعب ۳ ډالره له ایران څخه واخلې ددې لارې به افغانستان وکولی شي د هېواد خزانې ته ډېر عواید لاسته راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخذلیکونه


1. احمدي، سیدعباس ودیگران. (۱۳۹۳) هیدروپلیتیک شرق کشور و چالش های امنیتی اینده. فصلنامه دانش انتظامی خراسان جنوبی سال ۳ شماره ی ۳. مخ ۲۰
2. ارشاد، اورنګزیب. (۱۳۸۴). افغانستان پېژندنه. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه. مخ: ۱۰۵
3. ارغنداوي، عبدالعلي. (۱۹۹۷). په تېرو نهو لسیزو کې د افغانستان تاریخ. پېښور: پبلک ارټ پریس. مخ:۲۲۲
4. اریوبي، برکت الله. (۱۳۹۶). د افغانستان د اوبو حقوق. کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه. ۲۶ـ۸۸
5. اطاعت، جواد و ورزش، اسماعیل. (۱۳۹۱) هیدروپولیتیک هېرمند:دلایل، آثار وپیامدها. پژوهش های جغرافیای انسانی، شماره ی ۸۰. مخونه: ۷ـ۱۱
6. توتاخېل، نجیب الله. (۲۰۱۹). د اوبو رول په اقتصادي وده کې. علمي مقاله. پکتیا پوهنتون: اقتصاد پوهنځی.مخ:۱
7. عطایي، محمدابراهیم. (۱۳۸۹). دافغانستان معاصر تاریخ ته یوه لنډه کتنه. کابل: میوند خپرندویه ټولنه.مخ: ۹۷
8. کلیوال، سلطان جان. (۲۰۱۷). د افغانستان اوبه . د افغانستان سره د دښمنۍ ستر لامل. اریانا افغانستان انلاین.مخ:۱
9. منلی، نجیب. (۲۰۱۸). د افغانستان اوبه او د پاکستان زهر. جرمني: افغان جرمن آنلاین. مخ:۳
10. نیازی، محمد داود. (۱۳۹۷). د افغانستان اوبه. کابل: سوله خپرندویه ټولنه. مخونه: ۴۷ـ۷۸
11. یوناما.(۲۰۱٦). د اوبو حقوق. کابل: په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سازمان د مرستې ماموریت یوناما. مخ: ۷


Faculty of Education
Department of Geography
Assist. Prof: Fayaz Gul Mazloum Yar

**Hydro-Political relationships of Iran and Afghanistan on Helmand River**

**Abstract**

A Country which does not have control on its water entirely, the utilization of its water is always accompanied with problems. Among the rivers of Afghanistan, Helmand River is one of these rivers. Helmand River originates from the mountains of Afghanistan. The life of people who live in sistan of Iran is linked with Helmand River.

The zigzag flow of Helmand Rive Forward Iran and the reduction of water during the past hundred years sometimes create problems between Iran and Afghanistan on National and local level. This Topic points out the historical background of Helmand River, the protocol between two countries about the water of Helmand River, and the effect of Helmand river water on the relationships of between Afghanistan and Iran. This is a library research the main idea of this topic is the research of relationships between Afghanistan and Iran.

Research question is what is the effect of Helmand River on the relationships of Afghanistan and Iran? I found out through this research that Helmand River has a vital importance for Iran. The Life of Two provinces of Iran directly and indirectly are linked with Helmand's river water. Whenever the government of Afghanistan controls the water of Helmand River, the government of Iran Simultaneously reaction puts pressure on Afghan refugees inside Iran and Afghanistan.

**Keywords: Helmand River, Hydro-Politic, Sistan area, Relations, Water Dam**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**